ژورنال بین المللی پوهنتون تخار

Research Article

نویسنده مسؤل: عبدالباری ملنگ
تاریخ دریافت: ۱۴۰۵ /۴/ ۲۲
تاریخ قبول: ۱۴۰۵ / ۶/۷
تاریخ نشر: ۱۴۰۵/۷/ ۲۰

# په ۱۴۰۴ ښوونیز کال کې د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو په مسلکي پرمختګ کې د ښوونیزې رهنمایۍ رول او اغېزې

عبدالباری ملنګ او شکرالله دولت زی د کابل ښوونې او روزنې ماستری برنامې محصل
shakrullah.dawlatzai76@gmail.com
ORCED: https://orcid.org/0009-0004-2795-459X

## لنډیز

اوسنۍ څېړنه د ۱۴۰۴ ښوونیز کال په ترڅ کې د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو په مسلکي پرمختګ کې د ښوونیزې رهنمایۍ د رول او اغېزو د ارزونې په موخه ترسره شوې ده. د څېړنې موخه دا ده، چې د ښوونیزې رهنمایۍ اغېزې د ښوونکو پر مسلکي وړتیاوو، تدریسي مهارتونو، د تدریس د کیفیت پر لوړوالي او د ښوونیزو فعالیتونو پر ښه والي وڅېړل شي. دغه څېړنه د موخې له مخې کاربردي د میتود له مخې توصیفي ـ پیمایشي او د معلوماتو د راټولولو له پلوه کمي ده. د څېړنې احصایوي ټولنه د موسهي ولسوالۍ د ښوونځیو ښوونکي وو، چې معلومات د څېړونکي له خوا د جوړ شوي پوښتنلیک له لارې راټول او د SPSS 24 سافټویر په وسیله تحلیل شول. د څېړنې موندنې ښیي چې د ښوونیزې رهنمایۍ اغېز د ښوونکو په مسلکي پرمختګ کې د پام وړ دی. د ښوونیزې رهنمایۍ د اغېز کچه، د ښوونکو د تدریسي مهارتونو وده، د مسلکي پوهې پراختیا او د تدریس د کیفیت ښه والی ټول د منځنۍ کچې څخه لوړه ارزول شوي دي. همدارنګه، موندنو څرګنده کړه، چې منظمې رهنمایۍ، د ټولګیو له څارنې او مسلکي مشورو او د تجربو شریکول د ښوونکو د تدریسي وړتیاوو، نوښت، د درسي پلان جوړونې او د زده‌کوونکو د زده‌کړې د کیفیت په لوړولو کې مثبت رول لري. خو د څېړنې له مخې د ښوونیزې رهنمایۍ د اغېزمن پلي کېدو پر وړاندې ځینې خنډونه لکه: د مسلکي روزنې محدود فرصتونه او ښوونکو ترمنځ د اړیکو کمزورتیا،

د تدريسي امکاناتو کمښت او د وخت محدودیتونه موجود دي. د پايلې په توګه، ښوونيزه رهنمايې د ښوونکو د مسلکي پرمختګ او د ښوونيز کيفيت د لوړولو لپاره يوه مهمه او اغېزمنه وسيله ده؛ له همدې امله د ښوونيزو رهنماوو د ظرفيت لوړول، د منظمې رهنمايي پروګرامونو پياوړتيا او د ښوونکو لپاره د مسلکي ودې فرصتونو برابرول اړين دي.

**ځانګړې کلمې:** د تدريس کيفيت، تدريسي مهارتونه، مسلکي پرمختګ، مسلکي وده، موسهي ولسوالی، ښوونکي، ښوونيزه رهنمايي.

## The Role and Impact of Educational Guidance on Teachers' Professional Development in Musahi District during the 1404 Academic Year

Abdul Bari Malang and Shakrullah Dawlatza

### Abstract

The present study was conducted during the 1404 academic year to assess the role and effects of educational guidance on the professional development of teachers in Musahi District. The study aimed to examine the effects of educational guidance on teachers' professional competencies, teaching skills, improvement of teaching quality, and enhancement of educational activities. In terms of purpose, the study was applied; in terms of method, it was descriptive-survey; and in terms of data collection, it employed a quantitative approach. The statistical population of the study consisted of teachers working in schools in Musahi District. Data were collected through a researcher-developed questionnaire and analyzed using SPSS version 24 software.

The findings of the study indicate that educational guidance has a significant effect on teachers' professional development. The level of the effect of educational guidance, improvement of teachers' teaching skills, expansion of professional knowledge, and enhancement of teaching quality were all evaluated above the average level. Furthermore, the findings revealed that regular guidance, classroom observation, professional consultation, and experience sharing play a positive role in improving teachers' teaching competencies, innovation, lesson planning, and the quality of students' learning. However, the study identified several barriers to the effective implementation of educational guidance, including limited opportunities for

professional training, weak communication among teachers, inadequate teaching resources, and time constraints.

In conclusion, educational guidance is an important and effective means of promoting teachers' professional development and improving educational quality. Therefore, strengthening the capacity of educational guides, enhancing regular guidance programs, and providing teachers with opportunities for professional growth are essential.

**Keywords:** Teaching Quality, Teaching Skills, Professional Development, Professional Growth, Musahi District, Teachers, Educational Guidance.

**سریزه**

**اَلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَىٰ أَشْرَفِ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِينَ، نَبِيِّنَا وَرَسُولِنَا مُحَمَّدٍ، وَعَلَىٰ آلِهِ وَصَحْبِهِ، وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ، أَمَّا بَعْدُ.**

د ښوونکو د مسلکي پرمختګ د لارښوونې پروګرامونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښوونې له اصولو سره ژور تړاو لري. رسول الله صلی الله علیه وسلم د حکمت، نرمۍ او تدریجي ښوونې له لارې د خپلو اصحابو علمي او عملي وړتیاوې پیاوړې کولې. د ښوونکو لارښوونه هم د علمي مهارتونو لوړولو، د تدریس د ستونزو حل او د ښوونې د کیفیت ښه کولو وسیله ده. همدارنګه، د نبوي ښوونې د عملي نمونې اصل ښوونکي هڅوي چې خپلې علمي پوهې په عملي مهارتونو بدلې کړي. له همدې امله، د ښوونکو د پرمختګ لارښوونه د نبوي ښوونیزو اصولو په رڼا کې د اغېزمن تدریس او سالمې روزنې لپاره مهم ارزښت لري.

ښوونه او روزنه د ټولنې د پرمختګ او بشري پانګې د ودې لپاره یو له مهمو بنسټونو څخه ګڼل کېږي او ښوونکي د دې نظام اساسي عناصر دي. د ښوونکو مسلکي وړتیاوې، تدریسي مهارتونه او دوامداره مسلکي وده د تعلیمي نظام د کیفیت په لوړولو کې مهم رول لري. له همدې امله، د ښوونکو مسلکي پرمختګ د معاصرې ښوونې او روزنې یوه بنسټیزه اړتیا بلل کېږي، ځکه چې د ښوونکو د پوهې، مهارتونو او مسلکي وړتیاوو پیاوړتیا په مستقیم ډول د زده‌کړې پر کیفیت اغېز کوي(احمدزی، ۱۳۹۹) په افغانستان کې، چې د اوږدمهاله جګړو، ټولنیزو بدلونونو او محدودو امکاناتو له امله د ښوونې او روزنې نظام له ګڼو ننګونو سره مخ شوی، د ښوونکو مسلکي پرمختګ

ته ځانګړې پاملرنه ډېره اړینه ده. د ښوونکو د ظرفیت لوړونه، مسلکي روزنه او دوامداره ملاتړ کولای شي د تدریسي کیفیت په ښه والي او د زده‌کوونکو د زده‌کړې د پایلو په لوړولو کې اغېزمن تمام شي(سعید، ۱۴۰۰؛ رضایي، ۱۳۹۸).

ښوونیزه رهنمایي د ښوونکو د مسلکي پرمختګ لپاره یوه مهمه وسیله ده، چې د ښوونکو د تدریسي مهارتونو د پیاوړتیا، د نوو تدریسي طریقو د زده‌کړې، د درسي پلان جوړونې او د ستونزو د حل په برخه کې مرسته کوي. د ښوونیزې رهنمایۍ له لارې ښوونکي کولای شي خپلې تجربې شریکې کړي، مسلکي مشورې ترلاسه کړي او د تدریس په بهیر کې نوښتونه رامنځته کړي (کریمي، ۱۴۰۰) د نړیوالو سازمانونو لکه یونسکو راپورونه څرګندوي چې د ښوونکو دوامداره مسلکي پرمختګ د زده‌کړې د کیفیت د لوړوالي یو مهم عامل دی. د یونسکو د ښوونکو مسلکي پرمختګ چوکاټ هم د ښوونکو د ظرفیت لوړولو لپاره د لارښود په توګه کارول کېږي(یونسکو، ۲۰۲۴) [۱] په افغانستان کې د ښوونکو د مسلکي پرمختګ پروګرامونه د پوهنې وزارت له لوري د ښوونکو د وړتیاوو د لوړولو په موخه طرحه او پلي کېږي. د ښوونیزې رهنمایۍ پروګرامونه د ښوونکو د تدریسي مهارتونو د پراختیا، د نصاب د اغېزمن تطبیق، د ښوونځي د مدیریت د ښه والي او د ښوونیزو فعالیتونو د تنظیم په برخه کې مهم رول لري[٦] (ښوونیزې پېژندپاڼې ،2022) [۱] همدارنګه د افغانستان د ښوونې او روزنې ملي پلان کې د ښوونکو مسلکي پرمختګ د تعلیمي اصلاحاتو له مهمو لومړیتوبونو څخه ګڼل شوی دی[٧](ښوونیزې پېژندپاڼې ،2022) [۱] موسهي ولسوالۍ هم د هېواد له هغو سیمو څخه ده، چې د ښوونې او روزنې د کیفیت د لوړولو لپاره د ښوونکو مسلکي ملاتړ او دوامداره رهنمایۍ ته اړتیا لري. په دې ولسوالۍ کې د ښوونیزې رهنمایۍ پروګرامونه د ښوونکو د اړتیاوو پر بنسټ تنظیمېږي، څو د هغوی تدریسي مهارتونه لوړ، د زده‌کړې کیفیت ښه او د ښوونیزو ادارو فعالیتونه اغېزمن شي(مالکي جاویدان او جواديفر، ۱۳۹۴؛ جعفري، ۱۳۹۸) د ښوونکو تجربې او د ښوونځیو د راپورونو تحلیلونه څرګندوي چې منظمې ښوونیزې رهنمایۍ د ښوونکو په مسلکي وړتیاوو او تدریسي فعالیتونو مثبت اغېز لري (شریزاد، ۱۳۹۷).

---

1 UNESCO, 2024. 5
1 Education Profiles, 2022. 6
1 Education Profiles, 2022. 7

**په ۱۴۰۴ ښوونیز کال کې د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو په مسلکي پرمختګ کې د ښوونیزې رهنمايي رول او اغېزې**

عبدالباری ملنګ او شکرالله دولت زی



له همدې امله د ښوونیزې رهنمايي د رول او اغېزو ارزونه د ښوونکو د مسلکي پرمختګ، د تدریس د کیفیت د ښه والي او د راتلونکو ښوونیزو پروګرامونو د اغېزمنتیا لپاره اړینه ده. دغه څېړنه هڅه کوي چې په ۱۴۰۴ ښوونیز کال کې د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو په مسلکي پرمختګ کې د ښوونیزې رهنمايي رول او اغېزې وڅېړي، څو د موجود وضعیت په اړه علمي معلومات وړاندې او د ښوونکو د مسلکي ودې لپاره لازمې سپارښتنې وړاندې کړي.

**د ستونزې بیان**

د ښوونکو مسلکي پرمختګ د ښوونې او روزنې د کیفیت د لوړوالي لپاره یو اساسي عنصر ګڼل کېږي او ښوونیزه رهنمايي د دې بهیر د پیاوړتیا لپاره مهم رول لري. سره له دې چې د موسهي ولسوالۍ په ښوونځیو کې د ښوونکو د مسلکي پرمختګ لپاره د ښوونیزې رهنمايي پروګرامونه پلي کېږي او د ښوونکو د تدریسي وړتیاوو په لوړولو کې یې مثبتې اغېزې څرګندې شوې دي، خو لا هم یو شمېر ستونزې او ننګونې شته چې د دغو پروګرامونو د اغېزمنتیا مخه نیسي. له مهمو ستونزو څخه یوه د مسلکي پرمختګ پروګرامونو لپاره د کافي مالي سرچینو نشتوالی دی. محدود مالي امکانات د ښوونکو د روزنیزو ورکشاپونو، سیمینارونو، مسلکي کورسونو او نورو پراختیايي فعالیتونو د تنظیم او پراخېدو مخه نیسي، چې په پایله کې د ښوونکو د دوامداره مسلکي ودې فرصتونه کمېږي(احمدزی، ۱۳۹۹) د ځینو ښوونکو له خوا د نوې ټکنالوژۍ، عصري تدریسي میتودونو او نوښتګرو ښوونیزو طریقو د کارونې په برخه کې د پوهې او مهارتونو کمښت د ښوونیزې رهنمايي د اغېزمنتیا یو مهم خنډ بلل کېږي. ډېری ښوونکي لا هم په دودیزو تدریسي طریقو تکیه کوي او د فعالو او نوېو تدریسي ستراتیژیو د کارونې وړتیا یې محدوده ده(سعید، ۱۴۰۰؛ رضايي، ۱۳۹۸) بل مهم عامل د ښوونیزو ادارو د مدیریت او اداري ملاتړ کمزورتیا ده. که چیرې د ښوونځیو مشرتابه د ښوونکو د مسلکي پرمختګ لپاره لازم ملاتړ، زمینه او هڅونه برابره نه کړي نو ښوونکي د زده کړو له لارې ترلاسه شوي نوي مهارتونه په عملي تدریس کې له ستونزو سره مخ کېږي (کریمي، ۱۴۰۰).

له بلې خوا د ټکنالوژیکو امکاناتو محدودیتونه، لکه د انټرنېټ، برېښنا او ښوونیزو وسایلو کمښت، د ښوونکو د آنلاین روزنیزو پروګرامونو، ډیجیټلي سرچینو او نویو زده‌کړیزو امکاناتو له کارونې سره

ستونزې راڅرګندې کړي (یونسکو،۲۰۲۴) [1] همدارنګه د ښوونکو زیاتې دندې، تدریسي بوختیاوې او د وخت محدودیتونه د دې سبب کېږي چې هغوي په مسلکي پرمختیایي پروګرامونو کې په دوامداره او فعاله توګه ګډون ونه شي کولای. د تدریسي مسؤلیتونو تر څنګ نور اداري او شخصي مصروفیتونه هم د ښوونکو د مسلکي زده‌کړې لپاره د وخت کمښت رامنځته کوي( شریستا او باجراچاریا) [1].

د پورته ستونزو له مخې څرګندېږي، چې که څه هم ښوونیزه رهنمایي د ښوونکو د مسلکي پرمختګ لپاره اغېزمنه وسیله ده، خو د هغې بشپړه ګټه اخیستنه د مناسبو شرایطو، کافي سرچینو، مسلکي ملاتړ او منظم مدیریت اړتیا لري. له همدې امله اړینه ده، چې د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو د اړتیاوو او موجودو شرایطو پر بنسټ د ښوونیزې رهنمایۍ پروګرامونه وارزول شي، څو د هغوي د اغېزمنتیا کچه معلومه او د ښوونکو د مسلکي ودې لپاره عملي لارې چارې وړاندې شي.

**د څېړنې اهمیت او ضرورت**

ښوونکي د ښوونې او روزنې د نظام له مهمو عناصرو څخه دي، او د هغوي مسلکي وړتیاوې د تعلیمي کیفیت د لوړوالي لپاره اساسي رول لري. د ښوونکو دوامداره مسلکي پرمختګ نه یوازې د هغوي د علمي پوهې او تدریسي مهارتونو د پیاوړتیا سبب ګرځي، بلکې د زده‌کوونکو د زده‌کړې د پایلو، خلاقیت او علمي پرمختګ په ښه والي کې هم مستقیم اغېز لري(احمدزی، ۱۳۹۹) له همدې امله د ښوونکو مسلکي پرمختګ ته پاملرنه د هر تعلیمي نظام له مهمو اړتیاوو څخه ګڼل کېږي. په موسهي ولسوالۍ کې د ښوونکو مسلکي پرمختګ ته ځانګړې پاملرنه ځکه اړینه ده چې د ښوونکو د تدریسي وړتیاوو لوړوالی د ښوونځیو د تعلیمي کیفیت په ښه والي کې مهم رول لري. د ښوونکو د مهارتونو پیاوړتیا، د نوو تدریسي طریقو کارول او د زده‌کړې د بهیر اغېزمنتیا د ټولنې د علمي او فرهنګي پرمختګ لپاره مهم بنسټونه جوړوي (سعید، ۱۴۰۰)ښوونیزه رهنمایي د ښوونکو د مسلکي ودې په برخه کې یوه اغېزمنه وسیله ده، ځکه چې د دې پروګرامونو له لارې ښوونکي د نوو تدریسي میتودونو، تعلیمي ټکنالوژۍ، درسي پلان جوړونې، ارزونې طریقو او د ټولګي د مدیریت په برخو کې لازمې لارښوونې ترلاسه کوي (رضایي، ۱۳۹۸) د ښوونیزې رهنمایۍ کمزورتیا

---

[1] UNESCO, 2024. 8

[1] Shrestha & Bajracharya, 2020. 9

**په ۱۴۰۴ ښوونیز کال کې د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو په مسلکي پرمختګ کې د ښوونیزې رهنمايي رول او اغېزې**

عبدالباری ملنګ او شکرالله دولت زی



یا نشتوالی کولای شي د ښوونکو د مسلکي پرمختګ بهیر ورو کړي او په پایله کې د زده‌کوونکو د زده‌کړې کیفیت او د تعلیمي موخو ترلاسه کول له ستونزو سره مخ کړي (کریمي، ۱۴۰۰). د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې په موسهي ولسوالۍ کې د ښوونکو د مسلکي پرمختګ لپاره د ښوونیزې رهنمايي رول، اغېزې او موجودې ستونزې په علمي ډول وڅېړي. د دې څېړنې موندنې به د ښوونکو د تدریسي مهارتونو د لوړولو، د ښوونیزو پروګرامونو د اغېزمنتیا د ښه کولو او د زده‌کوونکو د علمي لاسته راوړنو د ودې لپاره عملي او علمي وړاندیزونه وړاندې کړي (سلطاني، ۱۴۰۱) دغه څېړنه به د پوهنې مسؤلینو، ښوونیزو رهنمایانو، د ښوونکو د روزنې پروګرامونو جوړونکو او پالیسۍ جوړونکو لپاره د پرېکړو نیولو په برخه کې د یوې مهمې علمي سرچینې په توګه ګټه ولري، څو د ښوونکو د مسلکي پرمختګ پروګرامونه د واقعي اړتیاوو له مخې طرحه او په اغېزمن ډول پلي شي.

په پایله کې د دې څېړنې ترسره کول د موسهي ولسوالۍ په ښوونځیو کې د ښوونکو د مسلکي وړتیاوو د لوړولو، د تدریس د کیفیت د ښه والي او د ښوونیز نظام د پرمختګ لپاره ځانګړی اهمیت لري. دا څېړنه کولای شي د ښوونیزې رهنمايي د پیاوړتیا او د ښوونکو د دوامداره مسلکي ودې لپاره د عملي لارو چارو په وړاندې کولو کې مرسته وکړي.

**د څېړنې موخې**

**اصلي موخه:** د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو د مسلکي پرمختګ په برخه کې د ښوونیزې رهنمايي رول او اغېز ارزول.

**فرعي موخې**

د ښوونکو د تدریسي مهارتونو لوړولو کې د ښوونیزې رهنمايي پروګرامونو اغېز معلومول.

د ښوونکو د مسلکي پرمختګ پر زده‌کوونکو د زده‌کړې کیفیت باندې تاثیر ارزول.

د ښوونکو د نوو تدریسي میتودونو او ټکنالوژۍ کارونې سره د ښوونیزې رهنمايي مرسته څېړل.

د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو لپاره د ښوونیزې رهنمايي پروګرامونو د ستونزو او محدودیتونو پېژندل.

**د څیړنې پوښتنې**

**اصلي څېړنيزه پوښتنه:** د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو د مسلکي پرمختګ په برخه کې د ښوونيزې رهنمايۍ رول او اغېز څه دی؟

**فرعي څېړنيزې پوښتنې**

د ښوونکو د تدريسي مهارتونو لوړولو کې د ښوونيزې رهنمايۍ پروګرامونو اغېز څه ډول دی؟

د ښوونکو د مسلکي پرمختګ پروګرامونه څنګه د زده‌کوونکو د زده‌کړې کيفيت ښه کولو کې مرسته کوي؟

ښوونکي څنګه د نوو تدريسي ميتودونو او ټکنالوژۍ کارونې له لارې د ښوونيزې رهنمايۍ پروګرامونو څخه ګټه اخلي؟

**د متغيرونو پيژندنه**

**د ښوونکو مسلکي پرمختګ:** د ښوونکو مسلکي پرمختګ پروګرامونه د ښوونکو د پوهې، مهارتونو او تدريسي وړتياوو د لوړولو لپاره جوړ شوي منظم فعاليتونه دي. دغه پروګرامونه ښوونکو ته فرصت برابروي چې په تدريس کې نوښت، مؤثريت او د زده‌کوونکو د لاسته راوړنو ښه والی رامنځته کړي. د مسلکي پرمختګ پروګرامونه په موسمي ورکشاپونو، سيمينارونو، ارزونې او مشورتي فعاليتونو ولاړ دي او ښوونکو ته د لوړ رتبه کورسونو او تخصصي روزنې فرصتونه برابروي(دارلينګ، هموند او همکاران، ۲۰۱۷) [۲] .

**نوې تدريسي ميتودونه:** نوې تدريسي ميتودونه او ټکنالوژۍ کارونه د زده‌کړې کيفيت لوړولو لپاره بنسټيز رول لري. فعاله زده‌کړه زده‌کوونکي په درس کې فعاله ګډون ته هڅوي او د ستونزو حل، بحث او ډله‌ييز فعاليتونه پکې شامل دي. پروژه محوره تدريس زده‌کوونکي د عملي پروژو له لارې د مفاهيمو زده‌کړې ته هڅوي. همدارنګه د ټکنالوژۍ کارول لکه پروجکټور، کمپيوټر، آنلاين

[2] Darling-Hammond et al., 2017. [0]

منابع او تعلیمي سافټویرونه د تدریس مؤثریت زیاتوي. دکیسو میتود هم د مفاهیمو تشریح په زړه پورې کوي او د زده‌کوونکو توجه او یادښت ښه کوي(پرنس، ۲۰۰۴؛ بېل، ۲۰۱۰).

**ښوونیزه رهنمایي:** ښوونیزه رهنمایي د ښوونکو مهارتونو د لوړولو لپاره یو مؤثر سیستم دی. ښوونیزه رهنمایي ښوونکو ته لارښوونه، عملي مشوره او ملاتړ برابروي د تدریس ستونزې حل کړي، د تدریسي پلان جوړونه ښه کړي او نوې میتودونه او ټکنالوژي په مؤثره توګه پلي کړي. دغه رهنمایي د ښوونکو اعتماد او مسلکي رضایت لوړوي او د زده‌کوونکو لاسته راوړنې زیاتوي(نایټ، ۲۰۰۷).
۲

په مجموع کې د ښوونکو مسلکي پرمختګ پروګرامونه، نوې تدریسي میتودونه او ښوونیزه رهنمایي یو ځای د تدریس کیفیت لوړوي، د زده‌کوونکو لاسته راوړنې ښې کوي او د ښوونکو د مسلکي رضایت کچه زیاتوي.

**د څېړنې مخینه**

د ښوونکو مسلکي پرمختګ د تعلیمي نظام د پرمختګ بنسټ جوړوي، ځکه چې ښوونکي د زده‌کړې د کیفیت، د زده‌کوونکو د ذهني ودې، او د ټولنې د علمي کچې د لوړولو لپاره مهمه انساني پانګه ده. څېړنې څرګندوي چې هغه ښوونځي چې په منظم ډول د ښوونکو لپاره د روزنې، څارنې او رهنمایی پروګرامونه ترسره کوي، د تدریس کیفیت یې لوړ، زده‌کوونکي یې فعال او د زده‌کړې پایلې یې غوره وي (احمدزی، ۱۳۹۹).

په موسهي ولسوالی کې د ښوونکو د مسلکي پرمختګ وضعیت د ګڼو ستونزو سره مخ دی. د ټکنالوژی محدود لاسرسی، د نوو تدریسي میتودونو ناپوهي او د اداري ملاتړ کمبود د دې سبب شوی چې ډېری ښوونکي د تدریس دودیزې لارې وکاروي چې له امله یې د زده‌کوونکو د زده‌کړې کیفیت ټیټ پاتې شوی دی(سعید، ۱۴۰۰) په ایران کې ترسره شوي علمي څېړنې هم د ښوونکو د مسلکي پرمختګ ارزښت ته اشاره کوي د(رضایی ، ۱۳۹۸) څېړنه څرګندوي چې د تعلیمي

---

[2] Prince, 2004; Bell, 2010. [1]
[2] Knight, 2007. [2]

ټکنالوژۍ روزنیز ورکشاپونه د ښوونکو د مهارتونو په لوړولو او د درسي نوښتونو په رامنځته کولو کې مهم رول لوبوي. همدارنګه(سلطانی، ۱۴۰۱) استدلال کوي چې د ښوونکو مسلکي پرمختګ پروګرامونه نه یوازې د هغوي د تدریسي مهارتونو په لوړولو اغېز لري، بلکې د زده‌کوونکو د تحصیلي لاسته راوړنو په ښه والي کې هم مهم فکتور دی. د (بهرامي، احمدي؛کریمي ، ۱۳۹۹) څېړنه څرګندوي چې د ښوونکو د رهنمایي او نظارتي پروګرامونو پلي کول د ښوونکو د مسلکي رضایت، د ښوونځي د چاپېریال د ښه والي او د تدریس د کیفیت د زیاتوالي سبب کېږي. د (کاوه ، ۱۴۰۰) څېړنې موندنې بیا دا ټینګار کوي چې د ښوونکو د دوامدار مسلکي پرمختګ پروګرامونه هغه مهال اغېزمن وي چې د منظمې رهنمایۍ، فیډبک ورکولو او د مهارت پراختیا سیستم ولري. په ورته ډول د(حسینی ، ۱۳۹۸) څېړنه څرګندوي چې که څه هم د ښوونکو مسلکي پرمختګ ته په نظري لحاظ ډېره پاملرنه کېږي، خو په عملي ډګر کې د وخت، بودیجې او روزنیزو منابعو کمبود د دې پروګرامونو د بشپړ تطبیق مخه نیسي. د هغه په باور، د ښوونکو مسلکي پرمختګ باید د ښوونځیو د اړتیاوو او سیمه‌ییزو شرایطو پر بنسټ طرحه او پلي شي، څو د واقعي بدلون لامل شي.
۳ نړیوالې څېړنې هم دغه لیدلوری تائیدوي. د(شریستا، باجراچیا، ۲۰۲۰). څېړنه څرګندوي چې تعلیمي رهنمایي د ښوونکو د مسلکي ودې لپاره یوه بنسټیزه وسیله ده، ځکه دا د تدریسي مهارتونو د لا ښه کولو، د تدریس د کیفیت د تضمین، او د ښوونیزو معیارونو د لوړولو لامل کېږي. همدارنګه د(علی، رحمان او خان، ۲۰۲۱) څېړنه په پاکستان کې ترسرۀ شوي پایله یې ښیي چې د ښوونکو د نظارتي او روزنیزو پروګرامونو شتون د ښوونکو د وړتیاوو او تدریسي مؤثریت په لوړوالي کې مهم رول لري.

په ټولیز ډول د ملي او نړیوالو څېړنو پایلې دا څرګندوي چې د ښوونکو مسلکي پرمختګ، دوامداره روزنه، او ښوونیزه رهنمایي د ښوونې او روزنې د نظام د کیفیت د ښه والي لپاره حیاتي اهمیت لري. خو لا هم د سیمه‌ییزو شرایطو، ټکنالوژۍ د محدود امکاناتو او د ادارو د کمې بودیجې له امله، د دغو پروګرامونو پلي کول د ډېرو ننګونو سره مخامخ دي. له همدې امله، په موسهي ولسوالۍ کې د ښوونکو د مسلکي پرمختګ د وضعیت او د رهنمایۍ د اغېز ارزونه یو اړین علمي ګام بلل کېږي.

---

2 Shrestha، Bajracharya،۲۰۲۰. 3
2 Ali، Rahman، Khan 2021. 4

## د څېړنې نظری بنسټ

د هرې علمي څېړنې لپاره نظری بنسټ د څېړنې د اساسي مفاهیمو، متغیرونو او د هغوي ترمنځ د اړیکو د روښانتیا لپاره مهم رول لري. د دې څېړنې نظریاتي بنسټ د ښوونکو د مسلکي پرمختګ او ښوونیزې رهنمایۍ له نظریو څخه جوړ شوی دی. دغه نظری بنسټ هڅه کوي چې د ښوونیزې رهنمایۍ رول او اغېز د ښوونکو د مسلکي وړتیاوو، تدریسي مهارتونو، د تدریس د کیفیت او ښوونیزو فعالیتونو په ښه والي کې تشریح کړي. د ښوونکو د مسلکي پرمختګ نظریه ټینګار کوي چې ښوونکي باید د خپل مسلک په اوږدو کې په دوامداره توګه خپلې علمي پوهې، مهارتونه او مسلکي وړتیاوې لوړې کړي، څو وکولای شي د زده‌کوونکو د اړتیاوو سره سم اغېزمن تدریس ترسره کړي. د ښوونکو دوامداره مسلکي پرمختګ د تدریسي کیفیت د لوړوالي، د نوښت رامنځته کېدو، د مسلکي باور زیاتوالي او د زده‌کوونکو د زده‌کړې د پایلو د ښه والي لپاره یو مهم عامل ګڼل کېږي (کریمي، ۱۴۰۰).

همدارنګه د ښوونیزې رهنمایۍ نظریه څرګندوي چې رهنمایي د ښوونکو د مهارتونو د پراختیا، د تدریسي فعالیتونو د ښه والي، د نوو تدریسي طریقو د کارونې او د ښوونځي د مدیریت د اغېزمنتیا د لوړولو لپاره یوه مهمه وسیله ده. د ښوونیزو رهنمایانو له خوا منظمې لارښوونې، د ټولګي څارنه، مسلکي مشورې او د تجربو شریکول د ښوونکو د مسلکي ودې او د تدریس د کیفیت د لوړولو په برخه کې مثبت رول لري(سلطاني، ۱۴۰۱) د بهرامي او همکارانو (۱۳۹۹) د څېړنې له مخې د ښوونکو د رهنمایۍ پروګرامونه د تدریس د کیفیت له لوړوالي، د ښوونکو د مسلکي رضایت له زیاتوالي او د هغوي د کاري وړتیاوو له پیاوړتیا سره مستقیمه اړیکه لري. له همدې امله ښوونیزه رهنمایي د ښوونکو د مسلکي پرمختګ د ملاتړ لپاره یو اغېزمن میکانیزم ګڼل کېږي. د دې نظری بنسټ له مخې، د څېړنې مهم مفاهیم عبارت دي له: د تدریسي مهارتونو لوړول، د نوو تدریسي میتودونو او ټکنالوژۍ کارول، د زده‌کوونکو د زده‌کړې د کیفیت ښه کول، د ښوونکو مسلکي رضایت او د ښوونځي اداري ملاتړ. ښوونیزه رهنمایي د ښوونکو سره مرسته کوي چې د ټولګي مدیریت، درسي پلان جوړونه، د زده‌کوونکو ارزونه او د تدریس نوې طریقې په اغېزمن ډول وکاروي. په پایله کې دغه نظریاتي چوکاټ د دې څېړنې لپاره بنسټ برابروي څو په علمي ډول

وځېړل شي چې ښوونیزه رهنمايي د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو په مسلکي پرمختګ، تدريسي مهارتونو او د تدریس د کیفیت په لوړولو کې څه رول او اغېز لري.

**د څېړنې میتودولوژي**

دا څېړنه د هدف له نظره کاربردي (عملي) ده او د میتود له نظره توصیفي- پیمایشي (سروی/ساحوي نظرپوښتنه) ګڼل کېږي. د دې څېړنې اساسي موخه داده چې د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو په مسلکي پرمختګ کې د ښوونیزې رهنمايۍ رول او اغېزې وڅېړل شي او هغه عوامل وپېژندل شي چې پر دې پرمختګ اغېزه لري. د معلوماتو د راټولولو لپاره د څېړونکي لخوا جوړ شوی پوښتنلیک کارول شوی، چې د ساحوي سروې له لارې د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو ترمنځ وېشل شوی دی.

**احصایوي ټولنه (جامعه آماري)**

په دې څېړنه کې جامعه آماري د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو  چې شمېر يې په ۱۴۰۴ ښوونیز کال کې ۵۰ تنه دی. د ټولنې د کم حجم له امله، له سرشمیرنې میتود څخه کار اخیستل شوی، یعنې پوښتنلیکونه ټولو ۵۰ کسانو ته ورکړل شوي دي. له دغو پوښتنلیکونو څخه ۵۰ کسانو ځوابونه ورکړي، چې د ۱۰۰سلنه د ځواب ویلو سطحه ښيي او دا کچه د څېړنې لپاره معتبره ګڼل کېږي.

**د معلوماتو د راټولولو وسیله**

د دې څېړنې لپاره د معلوماتو د راټولولو اصلي وسیله د څېړونکي له خوا جوړ شوی پوښتنلیک دی، چې د اړوندو نظریو، علمي ادبیاتو، تیوریو او پخوانیو څېړنو پر بنسټ طرحه او تنظیم شوی دی. دغه پوښتنلیک د ښوونیزې رهنمايۍ د رول او اغېزو، د ښوونکو د مسلکي پرمختګ، تدریسي مهارتونو، د تدریس د کیفیت او د ښوونیزو فعالیتونو د ښه والي اړوند بېلابېل اړخونه رانغاړي.

د پوښتنلیک د محتوا د اعتبار د معلومولو لپاره د ښوونې او روزنې او مدیریت برخو له متخصصینو سره شریک شوی او د هغوي د علمي نظرونو او وړاندیزونو له مخې اصلاح او نهايي شوی دی. د پوښتنلیک د اعتبار وړتیا يې ۰،۷ ترلاسه شوې ده. دغه کچه څرګندوي چې پوښتنلیک د مناسب ثبات او باور وړتیا لرونکی دی او د څېړنې د معلوماتو د راټولولو لپاره د منلو وړ وسیله ګڼل کېږي. د معلوماتو د راټولولو په بهیر کې پوښتنلیکونه په مستقیمه او حضوري توګه د موسهي ولسوالۍ د

ښوونځیو له ټاکل شوو ګډونوالو سره ووېشل شول، څو د هغوي واقعي نظرونه، تجربې او لیدلوري ترلاسه او د څېړنې د موخو له مخې تحلیل شي.

### د ګډونوالو احصایوي ځانګړتیاوې

**جنسیت:** د ټولو ۵۰ ګډونوالو جنسیت نارینه وو یعنې ټول ګډونوال سړي(نارینه)وو.

**دکاري تجربو وېش:** د ځواب ویونکو په منځ کې، ۹کسان۱۸سلنه د ۱ څخه تر ۵کلونو پوري کاري مخینه لري، ۱۵کسان ۳۰ سلنه د ۶ څخه تر ۱۰کلونو پوري کاري مخینه لري، ۱۴کسان ۲۸سلنه د ۱۱ څخه تر ۱۶کلونو پوري کاري مخینه لري او۱۲کسان ۲۴سلنه د ۱۷ تر ۲۵کلونو پوری کاري مخینه لري. دا وېش څرګندوي، چې نمونه د بېلابېلو تجربو لرونکو ښوونکو ترکیب لري، چې د مسلکي پرمختګ د څېړنې لپاره مناسب دی. د منځنۍ او اوږدمهاله تجربې لرونکي ښوونکي ۶–۱۶ کاله ټولټال ۲۹ کسان ۵۸سلنه جوړوي، چې په څېړنه کې د دې ډلې نظرونه ډېر اغیزناک دي. همدارنګه، د اوږدمهاله او ډېره اوږده تجربې لرونکي ښوونکي ۱۱–۲۵ کاله ټولټال ۲۶ کسان ۵۲سلنه دي، چې د ښوونیزې رهنمایی د اغیزو ارزونه د مسلکي فعالیت او تجربې له مخې ښه ترسره کولای شي. لنډمهاله تجربه لرونکي ښوونکي ۱۸سلنه ښايي په رهنمایي کې د نوي طریقو زده‌کړې او مسلکي پرمختګ په برخه کې ځانګړې اړتیاوې ولري. په ټوله کې د کاري تجربې دا تنوع د مختلفو تجربو لرونکو ډلو د نظرونو او پایلو د څېړلو لپاره زمینه برابروي، چې د موسهي ولسوالی د ښوونکو په مسلکي پرمختګ کې د ښوونیزې رهنمایی اغېزې په دقیق ډول ارزول کیدی شي.

(۱)ګڼه جدول



**کاری موقف:** د۵۰ځواب ورکوونکو کسانو له ډلې څخه ۴۳کسان ۸٦سلنه ښوونکی وو،۴کسان ۸سلنه سرښوونکی وو،۲کسان ۴ سلنه مدیران وو او ۱ نفر ۲سلنه آمر وو.

**د پوښتنلیك د اصلي تغیرونکو ارزونه**

(۲)گڼه جدول




د څېړني موندني د اصلي او فرعي پوښتنو پر اساس په لاندې ډول وړاندې کېږي.

**اصلي پوښتنه:** د موسهي ولسوالی د ښوونکو د مسلکي پرمختګ په برخه کې د ښوونیزي رهنمایی رول او اغېز څه دی؟

**لمړی فرعی پوښتنه:** د ښوونکو د تدریسي مهارتونو لوړولو کې د ښوونیزي رهنمایی پروګرامونو اغېز څه ډول دی؟ددی پوښتنې د ځواب لپاره ۱۲ اړوند ویل شوي و ارزول شول چې د هغوي منځني نمره ۳,۴۸ محاسبه شوی دا عدد چې له منځني نمرې ۳ څخه لوړ ده نو داسی ښیي چې د ښوونکو په باور، ښوونیزه رهنمایي پروګرامونه په تدریس او مسلکي پرمختګ کې معتدل مثبت اغېز لري. دا پروګرامونه ښوونکو ته فرصت ورکوي چې خپل تدریسي مهارتونه ارزونه کړي، د نوو میتودونو په اړه پوهه ترلاسه کړي او د ستونزو د حل لپاره مناسبې لارې چارې زده کړي. د ۰,۹۹ معیاري انحراف له مخې څرګندیږي چې ځینې ښوونکي د پروګرام اغېز لوړ ارزوي، په داسې حال

کې چې ځینې یې د اغېز اندازه منځنۍ ګڼي .دا توپیر ممکن د ښوونکو د تدریسي تجربې، موقف او د پروګرام د تطبیق په کیفیت پورې تړاو ولري.

| معیاری انحراف | منځنۍ | متغیرونه |
|---|---|---|
| 0.99 | 3.48 | ښوونیزه رهنمايي پروګرامونه |

**دوهمه فرعي پوښتنه:** د ښوونکو د مسلکي پرمختګ پروګرامونه څنګه د زده‌کوونکو د زده‌کړې کیفیت ښه کولو کې مرسته کوي؟ ددی پوښتنی د ځواب لپار ه له ۱۳ څخه تر ۲۰ ویونکي وو چې د هغوي منځنۍ نمره۳,۸۴ محاسبه شوی دا عدد چې له منځنۍ نمرې ۳ څخه لوړ ده نو داسی ښیي چې دغه پروګرامونه د مسلکي مهارتونو د پراختیا لپاره ډېر اغېزمن ګڼل شوي. د ښوونکو لپاره مسلکي پرمختګ د پوهې، مهارتونو او مسلکي چلند لوړولو مهمه وسیله ده. دا پروګرامونه کولی شي د تدریس کیفیت لوړ کړي، د زده‌کوونکو د فعالیت ارزونه او د زده‌کړې پایلې ښه کړي. د ۰,۸۹ معیاري انحراف کموالی ښیي چې د دې پروګرامونو اغېز په عمومي ډول د ټولو ښوونکو په نظر کې نسبتاً یو شان دی او د پروګرام اغېز د مختلفو ښوونکو ترمنځ ډېر توپیر نه لري.

| معیاری انحراف | منځنۍ | متغیرونه |
|---|---|---|
| 0.89 | 3.84 | د ښوونکو مسلکي پرمختګ پروګرامونه |

**درېیمه فرعي پوښتنه** :ښوونکي څنګه د نوو تدریسي میتودونو او ټکنالوژۍ کارونې له لارې د ښوونیزې رهنمايۍ پروګرامونو څخه ګټه اخلي؟ ددی پوښتنی د ځواب لپار ه له ۲۱ څخه تر ۲۸ ویونکي وو چې د هغوي منځنۍ نمره۳,۸۲ محاسبه شوی دا عدد چې له منځنۍ نمرې ۳ څخه لوړ ده نو داسی ښیي چې د نوو تدریسي میتودونو او ټکنالوژۍ کارول د ښوونکو لپاره **مثبت اغېز** لري. د نوو میتودونو او ټکنالوژۍ په کارولو سره، ښوونکي کولی شي د زده‌کوونکو د پوهې د ژورتیا کچه لوړه کړي، د زده‌کوونکو فعال ګډون رامنځته کړي او د درس وړاندې کولو پروسه مؤثره کړي. معیاري انحراف ۰,۹۴ ښیي چې د نظرونو توپیر معتدل دی، چې ممکن د ښوونکو د ټکنالوژۍ په مهارت، د پروګرام د ملاتړ کچه او د میتودونو د تطبیق تجربې پورې تړاو ولري.

| متغیرونه | میانګین | معیاری انحراف |
|---|---|---|
| د نوو تدریسي میتودونو او ټکنالوژۍ کارونه | 3.82 | 0.94 |

د څېړنې نتایج څرګندوي چې ښوونیزه رهنمایي پروګرامونه، په ځانګړې توګه د مسلکي پرمختګ او نوو تدریسي میتودونو سره یو ځای، د ښوونکو تدریسي مهارتونه لوړوي، د زده‌کوونکو د زده‌کړې کیفیت ښه کوي، او د ښوونې او روزنې په بهیر کې د دوامداره پرمختګ لامل کېږي.

**د څېړنې موندنې**

د دې څېړنې موخه د ۱۴۰۴ ښوونیز کال په ترڅ کې د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو په مسلکي پرمختګ کې د ښوونیزې رهنمایۍ د رول او اغېزو ارزونه وه. د څېړنې موندنو څرګنده کړه چې ښوونیزه رهنمایي د ښوونکو د مسلکي وړتیاوو د لوړولو، تدریسي مهارتونو د پیاوړتیا، د نوو تدریسي میتودونو او ټکنالوژۍ د کارونې د پراختیا او د تدریس د کیفیت د ښه والي په برخه کې مثبت او د پام وړ اغېز لري.

د اصلي څېړنیزې پوښتنې د پایلو له مخې د موسهي ولسوالۍ ښوونکي په دې باور دي چې ښوونیزه رهنمایي د هغوي د مسلکي پرمختګ لپاره یوه اغېزمنه وسیله ده. د څېړنې عمومي پایلې ښیي چې منظمې لارښوونې، مسلکي مشورې، د ټولګي څارنه او د تجربو شریکول د ښوونکو د تدریسي فعالیتونو د ښه والي او د مسلکي پوهې د پراختیا سبب ګرځي. دغه موندنه د کریمي(۱۴۰۰) او سلطاني(۱۴۰۱) د څېړنو له پایلو سره همغږي لري، چې ښوونیزه رهنمایي یې د ښوونکو د مهارتونو د لوړولو او د تدریس د کیفیت د ښه والي لپاره مهم عامل بللی دی.

د لومړۍ فرعي پوښتنې په اړه، چې د ښوونکو د تدریسي مهارتونو په لوړولو کې د ښوونیزې رهنمایۍ د اغېز ارزونه وه، د څېړنې موندنو وښودله چې د ښوونیزې رهنمایۍ پروګرامونو اغېز د ګډونوالو له نظره مثبت دی (M=3.48، SD=0.99) دا پایله څرګندوي چې ښوونیزه رهنمایي ښوونکو ته د خپلو تدریسي تجربو د ارزونې، د نوو تدریسي طریقو د زده‌کړې او د تدریسي ستونزو د حل لپاره لازمې لارې چارې برابروي. دغه موندنه د احمدزي (۱۳۹۹) او بهرامي او همکارانو

(۱۳۹۹) له څېړنو سره مطابقت لري، چې د ښوونکو رهنمايي او مسلکي ملاتړ يې د تدريسي وړتیاوو د لوړوالي مهم عامل ګڼلی دی.

د دوهمې فرعي پوښتنې د پايلو له مخې، د ښوونکو د مسلکي پرمختګ پروګرامونه د زده‌کړې د کیفیت په ښه والي کې مهم رول لري (M=3.84، SD=0.89) دا موندنه څرګندوي چې مسلکي روزنې، ورکشاپونه، مشورتي فعالیتونه او دوامداره زده‌کړه د ښوونکو علمي پوهه او مسلکي وړتیاوې پیاوړې کوي، چې په پایله کې د زده‌کوونکو د زده‌کړې پايلې ښه کېږي. دغه پایله د حماد او همکارانو (۲۰۱۷) له نظریاتو سره همغږې لري، چې دوامداره مسلکي پرمختګ يې د ښوونکو د اغېزمن تدریس او د زده‌کوونکو د لاسته راوړنو د لوړوالي لپاره اړین بللی دی.

د دریيمې فرعي پوښتنې په تړاو، چې د نوو تدريسي ميتودونو او ټکنالوژۍ د کارونې له لارې د ښوونيزې رهنمايي د ګټې اخيستنې ارزونه وه، موندنو وښودله چې دغه برخه هم مثبت ارزول شوې ده (M=3.82، SD=0.94) د څېړنې پايلې څرګندوي چې ښوونيزه رهنمايي له ښوونکو سره مرسته کوي څو له عصري تدريسي طريقو، ډيجيټلي سرچينو، کمپيوټر او نورو ښوونيزو وسايلو څخه په اغېزمن ډول استفاده وکړي. دغه موندنه د رضايي (۱۳۹۸) او سرشيتا او بيچريچيا (2020) د څېړنو له پايلو سره همغږې لري، چې د ښوونکو د ټکنالوژيکي او مسلکي مهارتونو د لوړولو لپاره يې د روزنيزو او رهنمايي پروګرامونو اهميت څرګند کړی دی. سره له دې چې د څېړنې موندنې د ښوونيزې رهنمايي مثبت اغېز څرګندوي، خو د دې پروګرامونو د بشپړ اغېزمنتيا پر وړاندې ځينې محدوديتونه هم شته. د ښوونکو د مسلکي روزنې د فرصتونو کمښت، د تدريسي امکاناتو محدوديت، د ټکنالوژۍ کمزوری لاسرسی، د وخت محدوديت او د اداري ملاتړ کمزورتيا هغه عوامل دي چې د ښوونيزې رهنمايي د اغېزمن تطبيق مخه نيسي. دغه موندنه د حسيني (۱۳۹۸) او سراشيتا او بيچريچيا (۲۰۲۰) له پايلو سره مطابقت لري، چې د مسلکي پرمختګ پروګرامونو د برياليتوب لپاره يې منظم ملاتړ، کافي سرچينې او دوامداره رهنمايي اړينه بللې ده. په ټوليز ډول د دې څېړنې موندنې څرګندوي چې ښوونيزه رهنمايي د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو د مسلکي پرمختګ لپاره يوه مهمه او اغېزمنه وسيله ده. دغه پروګرامونه د ښوونکو تدريسي مهارتونه لوړوي، مسلکي پوهه پراخوي، د نوو تدريسي ميتودونو او ټکنالوژۍ کارونه پياوړي کوي او د تدريس

کیفیت ښه کوي. له همدې امله، د ښوونیزو رهنمایانو د ظرفیت لوړول، د منظمې رهنمایی پروګرامونو پیاوړتیا، د ښوونکو لپاره د مسلکي ودې فرصتونو برابرول او د ښوونیزو امکاناتو پراختیا د ښوونې او روزنې د کیفیت د لا ښه والي لپاره اړین اقدامات ګڼل کېږي.

**مناقشه**

د دې څېړنې د میداني معلوماتو تحلیل څرګندوي چې د موسهي ولسوالۍ ښوونکي په عمومي ډول د ښوونیزې رهنمایی پروګرامونو په اړه مثبت نظر لري او دغه پروګرامونه د هغوي د مسلکي پرمختګ په برخه کې د پام وړ رول لري. د څېړنې پایلې ښيي چې ښوونیزه رهنمایي د ښوونکو د تدریسي مهارتونو د لوړولو، د نوو تدریسي میتودونو د زده‌کړې، د ټکنالوژۍ د کارونې وړتیا د پیاوړتیا او د تدریسي فعالیتونو د ښه والي لپاره اغېزمنه وسیله ده. د ښوونیزې رهنمایی له لارې ښوونکي کولای شي خپلې تجربې شریکې کړي، له مسلکي مشورو څخه ګټه واخلي او د تدریس په بهیر کې نوښتونه رامنځته کړي. د څېړنې موندنې څرګندوي چې د ښوونیزې رهنمایی پروګرامونه د ښوونکو په مسلکي رضایت او هڅونه کې هم مثبت اغېز لري. کله چې ښوونکي منظمې لارښوونې، مسلکي ملاتړ او د خپلو تدریسي ستونزو د حل لپاره لازمې مشورې ترلاسه کړي، نو د هغوي د مسلکي باور کچه لوړېږي او د دندې د ترسره کولو انګېزه یې پیاوړې کېږي. دغه حالت د ښوونځي د تدریسي چاپېریال په ښه والي او د ښوونیزو فعالیتونو په اغېزمنتیا کې مرسته کوي. د څېړنې پایلې ښيي چې که څه هم ښوونیزه رهنمایي د ښوونکو د مسلکي پرمختګ لپاره مهم فرصتونه برابروي، خو د هغې د بشپړ اغېزمن تطبیق پر وړاندې ځینې ستونزې هم موجودې دي. د مسلکي روزنې د فرصتونو محدودیت، د مالي سرچینو کمښت، د ټکنالوژۍ د امکاناتو نشتوالی، د وخت محدودیت او د ځینو ښوونکو د نوو تدریسي طریقو په برخه کې د مهارتونو کمزورتیا هغه عوامل دي چې د رهنمایی د پروګرامونو اغېز محدودولای شي. له همدې امله، د دې پروګرامونو د بریالیتوب لپاره د ښوونیزو ادارو دوامداره ملاتړ، د اړتیاوو پر بنسټ د روزنیزو فعالیتونو تنظیم او د مناسبو امکاناتو برابرول اړین دي. د څېړنې موندنې همدارنګه څرګندوي چې منظم او هدفمند ښوونیزه رهنمایي د ښوونکو د مسلکي ودې، د تدریسي کیفیت د لوړوالي او د ښوونیز نظام د پرمختګ لپاره مهم عامل دی. هغه رهنمایي چې د ښوونکو واقعي اړتیاوې په پام کې ونیسي، عملي لارښوونې وړاندې کړي او دوامداره ملاتړ ولري، کولای شي د ښوونکو وړتیاوې لا پیاوړې کړي او د زده‌کړې بهیر اغېزمن

کړي. په ټولیز ډول د دې څېړنې پایلې څرګندوي چې ښوونیزه رهنمایي د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو د مسلکي پرمختګ لپاره یوه اغېزمنه او اړینه تګلاره ده. د رهنمایۍ پروګرامونو پیاوړتیا، د ښوونیزو رهنمایانو د ظرفیت لوړول، د ښوونکو لپاره د مسلکي ودې فرصتونه برابرول او د ښوونیزو امکاناتو پراختیا کولای شي د تدریس کیفیت لوړ او د ښوونیز نظام د پرمختګ لامل شي.

**پایله**

د دې څېړنې پایلې څرګندوي چې ښوونیزه رهنمایي د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو د مسلکي پرمختګ په برخه کې مثبت او د پام وړ رول لري. د میداني معلوماتو تحلیل ښيي چې ښوونکي په عمومي ډول د ښوونیزې رهنمایۍ له پروګرامونو څخه مثبت برداشت لري او دا پروګرامونه د هغوی د تدریسي مهارتونو د لوړولو، مسلکي پوهې د پراختیا، د نوو تدریسي میتودونو د زده‌کړې او د ټکنالوژۍ د اغېزمنې کارونې په برخه کې مرسته کوي. د څېړنې موندنې څرګندوي چې منظمې او هدفمندې ښوونیزې رهنمایۍ ښوونکو ته زمینه برابروي څو خپلې تدریسي تجربې وارزوي، له نویو ښوونیزو لارو چارو سره بلد شي او د تدریس ستونزې په اغېزمن ډول حل کړي. همدارنګه، دغه پروګرامونه د ښوونکو د مسلکي باور، هڅونې او رضایت په لوړولو کې هم مهم رول لري، چې په پایله کې د ښوونیز چاپېریال د ښه والي او د تدریسي فعالیتونو د اغېزمنتیا سبب ګرځي. د څېړنې پایلې همدارنګه ښيي چې د ښوونکو مسلکي پرمختګ پروګرامونه د تدریس د کیفیت په لوړولو او د زده‌کوونکو د زده‌کړې د پایلو په ښه والي کې اغېزمن تمامېږي. هغه ښوونکي چې د مسلکي ودې له پروګرامونو او ښوونیزې رهنمایۍ څخه ګټه اخلي، د درسي پلان جوړونې، ټولګي مدیریت، د زده‌کوونکو ارزونې او د نوو تدریسي طریقو په کارونه کې د پام وړ پرمختګ کوي. سره له دې چې ښوونیزه رهنمایي د ښوونکو د مسلکي پرمختګ لپاره مهم فرصتونه برابروي، خو د څېړنې له مخې ځینې ننګونې لکه د مسلکي روزنې د فرصتونو محدودیت، د مالي سرچینو کمښت، د ټکنالوژۍ د امکاناتو نشتوالی، د وخت محدودیت او د ځینو ښوونکو د نوو تدریسي طریقو په برخه کې د مهارتونو کمښت د دې پروګرامونو د بشپړ اغېزمنتیا پر وړاندې خنډونه دي. د دغو ستونزو د کمولو لپاره د ښوونیزو ادارو دوامداره ملاتړ، د ښوونکو د اړتیاوو پر بنسټ د روزنیزو پروګرامونو تنظیم او د مناسبو امکاناتو برابرول اړین دي. په ټولیز ډول د دې څېړنې پایلې څرګندوي چې

ښوونیزه رهنمایي د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو د مسلکي ودې، د تدریس د کیفیت د لوړوالي او د ښوونیز نظام د پرمختګ لپاره یوه مهمه او اغېزمنه وسیله ده. د منظمې رهنمایۍ پیاوړتیا، د ښوونیزو رهنمایانو د ظرفیت لوړول، د ښوونکو لپاره د دوامداره مسلکي پرمختګ فرصتونه برابرول او د ښوونیزو امکاناتو پراختیا کولای شي د ښوونکو وړتیاوې لا پیاوړې او د زده‌کړې کیفیت نور هم ښه کړي. دغه څېړنه کولای شي د پوهنې مسؤلینو، ښوونیزو رهنمایانو او د ښوونکو د مسلکي پرمختګ د پروګرامونو جوړونکو لپاره د تصمیم نیونې په برخه کې ګټوره علمي سرچینه وګرځي.

**وړاندیزونه**

د دې څېړنې د پایلو له مخې د ښوونکو د مسلکي پرمختګ، د تدریس د کیفیت د لوړوالي او د زده‌کوونکو د لاسته‌راوړنو د ښه‌والي لپاره لاندې وړاندیزونه د ښوونې او روزنې اړوندو مقاماتو ته وړاندې کېږي:

۱. دوامداره ښوونیزه رهنمایي؛

۲. ټکنالوژي او وسایل؛

۳. مالي او اداري ملاتړ؛

۴. پرمختیایي ورکشاپونه او روزنې؛

په ټوله کې د یادو سپارښتنو عملي کول به د موسهي ولسوالۍ د ښوونې او روزنې د چارو کیفیت او اغېزمنتیا لوړه کړي. دا به نه یوازې د اداري د موخو د لا ښه عملي کولو او څارنې لامل شي بلکې د ښوونکو د مسلکي مهارتونو په پیاوړتیا، د اداري نظم په ټینګښت او د تصمیم‌نیولو په شفافیت کې هم مرسته وکړي.

**اخځلیکونه**

احمدزی، فرید .(۱۳۹۹). د ښوونیزو بنسټونو د زده کړې کیفیت او د ټکنالوژۍ اغېزې .کابل: ملي تعلیمي څېړنیز مرکز.

بهاری، مهدی. (۲۰۱۹). ارزیابی اثربخشی برنامه‌های توسعه حرفه‌ای معلمان .مجله پژوهش‌های تربیتی ایران، ۷(۲) ۴۰–۵۵.

بهرامی علی، احمدی، مهدی و کریمی، نسرین. (۱۳۹۹). تأثیر برنامه‌های رهنمایی آموزشی بر ارتقای مهارت‌های تدریسی معلمان .مجله پژوهش‌های تربیتی، ۵(۲)، ۱۵–۳۲.

جعفری، مهدی .(۱۳۹۸). نظارت آموزشی و تأثیر آن بر کیفیت اداره .تهران: نشر دانشگاهی.

حسینی، رضا. (۱۳۹۸). موانع و فرصت‌های توسعه حرفه‌ای معلمان در مدارس متوسطه ایران .مجله علمی پژوهشی تعلیم و تربیت، ٦(۱) ۲۱–۳۵.

رضایی، مهدی .(۱۳۹۸). فناوری آموزشی و بهبود کیفیت یادگیری در مدارس .تهران: انتشارات سمت.

سعید، محمد رحیم .(۱۴۰۰). د ټکنالوژۍ رول په ښوونه او روزنه کې .کابل: د تعلیم او تربیې پوهنتون خپرونې.

سلطانی، حمید.(۱۴۰۱). چالش‌ها و فرصت‌های فناوری آموزشی در مدارس ایران .مجله تعلیم و تربیت، ۱۰(۱) ۸۰–۹۵.

شریزاد، عبدالرحمن.(۱۳۹۷). د افغانستان په ښوونیزو ادارو کې د معلوماتو د کان کیندنې غوښتنلیکونه: فرصتونه او ننګونې .کابل: د پوهنتون خپرونې.

کاوه، فرهاد.(۱۴۰۰). ارزیابی اثربخشی برنامه‌های توسعه حرفه‌ای معلمان در مدارس .فصلنامه علوم تربیتی، ۸(۴)، ۴۵–٦۰.

کریمی، سعید.(۱۴۰۰).نقش فناوری اطلاعات و ارتباطات در ارتقای کیفیت آموزش .فصلنامه نوآوری‌های آموزشی، ۱۲(۳)، ۵۵–۷۲.

Bell, S. (2010). Project-based learning for the 21st century: Skills for the future. *The Clearing House, 83*(2), 39–43.

https://doi.org/10.1080/00098650903505415

Darling-Hammond, L., Hyler, M. E., & Gardner, M. (2017). *Effective teacher professional development.* Palo Alto, CA: Learning Policy Institute.

Education Profiles. (2022). *Afghanistan: School leadership and teacher professional development.*

https://education-profiles.org/central-and-southernasia/afghanistan/~school-leadership

Knight, J. (2007). *Instructional coaching: A partnership approach to improving instruction.* Thousand Oaks, CA: Corwin Press.

Prince, M. (2004). Does active learning work? A review of the research. *Journal of Engineering Education, 93*(3), 223–231.

https://doi.org/10.1002/j.2168-9830.2004.tb00809.

Rahman, F., Ali, S., & Khan, M. (2021). Impact of educational supervision on teacher professional development in rural schools. *International Journal of Educational Development, 82,* 102402.

https://doi.org/10.1016/j.ijedudev.2021.102402

Shrestha, P., & Bajracharya, R. (2020). The role of educational supervision in teacher professional development: A global perspective. *Journal of Education and Learning, 9*(4), 23–38. https://doi.org/10.5539/jel.v9n4p23

UNESCO. (2024). *Interim teacher competency framework Afghanistan.* https://articles.unesco.org/sites/default/files/medias/fichiers/2024/10/06.Interim_teacher_competency_framework_afghanistan.pdf